آصف بهاند

۲۰۱۷/۰۱/۱۹

«بــدرگـه کـه مـحبت را سـره نـه وای...»

# خوشال پو هنه

# ۱

# غزلیات

## بــدرگـه کـه مـحبت را سـره نـه وای
## یکتنها به په خونخوارو لارو تلل ځوک

خوشال ختک (۱۶۱۳ ـ ۱۶۸۹ م) د خپلې زماني هغه نابغه او نه تکراریدونکی شخصیت و، چې تر اوسنی زماني پورې یې افکار ژوندي دي او ډېرى یې له اوسنیو شرایطو او علمي اصولو او افکارو سره برابر او اړخ لګوي. د خوشال د شخصیت د بیلابیلو اړخونو په باب له ډېرې مودې را په دې خوا ځیرنیز کارونه شوي دي، د هغه د افکارو او آثارو په باب نظریات وړاندی شوي دي، مقالې، رسالې، تیزسونه او کتابونه لیکل شوي دي؛ خو د خوشال د فکر د دایرې پراخوالي، افکارو، آثارو او کار نامو ته چې لیدل کیږي، د ده د شخصیت په باب شوی کار کافي نه دی او هره زمانه کې او په هر نسل کې د خوشال د افکارو او آثارو په باب نوې ځیرنې او نوې نظریات را منځ ته کیږي.
زه د خوشال پوهنې تر سر لیک لاندې، د خوشال په باب د تیرو لیکل شوو آثارو نه په استفادې سره، د خپلو زدکړو او خپلو تجربو او د خوشال په باب د خپلو مطالعاتو نه په ګټې اخیستې سره غواړم وخت نا وخت د خوشال د شخصیت د بیلابیلو اړخونو په باب کله لنډې، کله اوږدې مقالې ولیکم او کله، کله یې د اړتیا په صورت کې یوه نیمه غزله یا د ځینو قصیدو ځو بیتونه له خپل برداشت او یادونو سره درنو لوستونکو ته وړاندې کړم.
دا دی په پیل کې د خوشال په یو غزل کې، د رند خوشال یو رندانه قدم او مزل ته ځیر کیږو، پر خونخوارو لارو باندې یې تګ ته کورو چې دی ځنګه د محبت په بدرګه د دې خطرناکې لارې مزل کوي، په کوم جرأت د مینې راز ښکاره کوي او څه ډول له خپلې معشوقې سره راز و نیاز کوي. د خوشال دې غزل ته د موسیقي جامې ور اغوستل شوي دي او ما د استاد ناشناس او استاد منور په ښکلو غږونو کې په دوو بیلابیلو بڼو اوریدلی دی.

دا هم غزل:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

که زه نه وای، تا به ځان لره بلل څوک
په پالنګ په دې دا هسې در ختل څوک

واړه عشق دی چې یې سر را ته ګیاه کړ
ګنه! زه پر ځان مین، د سر ښندل څوک

چې پتنګ ته روښنايي د څراغ ښکاره شي
نور له څراغه نه یې غواړي جار وتل څوک

بدرګه که محبت را سره نه وای
یکتنها به په خونخوارو لارو تلل څوک

د دې میو پیا لې ډیرو دي اخیستي
ولې ما غوندې به نه وي لا یعقل څوک

د زنخ په چاه دې بند، د شونډو مست وي
روغ هوښيار به په کوهي کې پریوتل څوک

ته په خپله را ته و وایې چې وایه
ګنه! زه د میني راز ښکاره ویل څوک

ته مې وژنه، د قصاص اندیښنه مه کړه!
د خپل خون په تور به ونیسم یو بل څوک

ښه خو دا چې د چا نوم په کې یادیږي
په فاني دُنیا به نه وي ژوندی تل څوک

تا په خپله سپینه خوله خوشال ته ورکړه
ګنه دی، دا هسې شونډې ښکلول څوک

(د خوشال کلیات، د زاهد مشواڼي اوډنه، د ۲۰۰۵ کال چاپ، ۷۰ ـ ۷۱ مخونه)

د لومړی برخې پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ